
د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

# پرمختیا

اوونیزه

۸۷ مه گڼه • پنجشنبه • د چنګاښ ۶مه • ۱۳۹۸



٤

# د خوست په ولایت کې د ١٤ میلیونه افغانیو په لګښت د کرنیزو ځمکو د اوبو کولو کاریز چارې بشپړې شوې



٥

په بغلان کې د ۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه شبکه‌ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه



٥

برگزاری دومین نمایشگاه ملی تولیدات زنان متشبث



# په لوګر کې څه باندې ٥٤ میلیونه افغانیو په لګښت د کرنیزو ځمکو د اوبو کولو د کانال د جوړیدو کار روان دي

۱۳۹۸/ چنګاښ/ ٦

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د کرنې لپاره د پراختیا نړیوالې بودجې (IFAD) د برنامې له لوري د څه باندې د ٥٤ میلیونه افغانیو په لګښت د کرنیزو مکو د اوبو لګولو کانال د جوړولو کار د لوګر ولایت د مرکز د ۱۲ کلیو د پراختیایي شوراګانو له لوري روان دي. دغه کانال ۱۷ کیلو متره اوږد والي، ۱۵٥ سانتي متره پلنوالي او شاوخوا ۷۰ سانتي متره لوړوالي لري چې کاريې تر اوسه له ۹۰٪ نه زیات بشپړ شوي دي. د نوموړي کانال د کار په بهیر کې هره ورځ په منځنۍ توګه ٤۰۰ تنو ماهرو اوغیر ماهرو کارګرو ته د کار زمینه برابریږي او د بشپړیدو وروسته به د یادو کلیو د خلکو ۲٤ زره جریبه ځمکه خړوبه شي.



# تکمیل کار ساخت یک شبکه‌ی آب آشامیدنی صحی به ارزش ۲ میلیون افغانی در سمنگان

۱۲ سرطان ۱۳۹۸

کار ساخت یک شبکه‌ی آب آشامیدنی صحی به ارزش نزدیک به دومیلیون افغانی از سوی برنامه‌ی ملی میثاق شهروندی وزارت احیا و انکشاف دهات در روستای لوپان نو ولسوالی حضرت سلطان ولایت سمنگان تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

طول این شبکه ۱۳۷۰ متر بوده، دارای ٦ شیردهن، ذخیره‌ای به ظرفیت ۲۰ متر مکعب و یک چاه به عمق ۱۲۰ متر می‌باشد.

گفتنی‌ست که در جریان کار این پروژه ٤۲۸ روز کاری برای کارگران فنی و غیر فنی مهیا شده و با تکمیل آن ۱۰٦ خانواده به آب آشامیدنی صحی دسترسی یافته اند.



# د خوست په ولایت کې د ۱٤ میلیونه افغانیو په لګښت د کرنیزو ځمکو د اوبو کولو کاریز چارې بشپړې شوې

۱۳۹۸/٤/۹

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت سیمه ییزو پروګرام د څه باندې ۱٤ میلیون افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د کاریز چارې د خوست د صبري یعقوبي ولسوالي په زمبر کلي کې بشپړې کړې.

دغه کاریز چې له ملي بودیجې تمویل شوي په یوه ثانیه کې د ۱۹۰ لیتره اوبو د ورکړې ظرفیت لري چې د سیمې ۱۳۰۰ جریبه زراعتي ځمکه به د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راولي.

د یادونې وړ ده چې د دغه کاریز د رغولو پر مهال ۷۱۳۷ کاري ورځې رامنځته شوې او د سیمې ۱٤۰۰۰ اوسیدونکي به ترې ګټه پورته کړي.



# په بغلان کې د ۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه شبکه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

۱۳۹۸/چنګاښ/۷

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو د ملي پروګرام له لروي د بغلان ولایت د پلخمري ښار په زمانخیلو کلي د ۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه شبکه چې ٤٦۰ کورنیو ته به د څښاک اوبه ورکوي، ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

یاده د اوبو رسولو شبکه چې ۱۳۰۰۰۰ لیترو په ظرفیت د اوبو ذخیره لري او هرې کورنۍ ته د نصب شوو میترونو له لارې اوبه ورکوي، د دې پروژې چارې د یو کال په موده کې بشپړې شوې.

# برگزاری دومین نمایشگاه ملی تولیدات زنان متشبث

۸ سرطان ۱۳۹۸

نمایشگاه مشترک تولیدات دستی زنان متشبث به رهبری برنامه ملی انکشاف اقتصاد روستایی وزارت احیا و انکشاف دهات، وزارت صنعت و تجارت و اتاق تجارت و صنایع زنان افغانستان برای سه روز (۵-۷ سرطان) در باغ چهلستون کابل راه اندازی شد.

در این نمایشگاه که به مناسبت صدمین سالگرد استرداد استقلال کشور دایر شده بود، ۱۲۰ بانوی متشبث از ۱٤ ولایت کشور حضور یافته و تولیدات دستی شان را به نمایش گذاشتند.





# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر د وزارت ۱٤ تقاعد شوي کارکوونکي وستایل

۱۳۹۸/چنگاښ/۱۱

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهنمل مجیب الرحمن کریمي د وزارت د بېلابېلو پروګرامونو ۱٤ تقاعد شوي کارکوونکي وستایل او د دوی د نماځنې په مراسمو کې یې وویل، چې د وزارت رهبري ستاسې د مخلصانه خدمتونو قدرداني کوي، د وزارت دروازې به ستاسې په مخ پرانېستې وي او ستاسې له تجربو به نور مامورین هم ګټه اخلي.

په دې ۱٤ تقاعد شویو کارکوونکو کې ( زیبا، ګلالۍ، نورمحمد، ګلاب الدین، محمد انور، محمد عیسي، ملاجان، حسام الدین، فیض محمد، سید صفدر شاه، عبدالحي، محمد نعیم، محمد حان او محمد عمر قانع ) شامل ول چې د وزارت رهبرۍ لخوا په ایوړډونو وستایل شول.

د یادونې وړ ده، چې دا لومړي ځل دي، چې په وزارت کې د تقاعد شویو کارکوونکو ته د دوي د کړیو خدمتونو د درناوي او ستاینې غونډه جوړېږي.